# د پښتو لغاتو د تحقيق لاري

د ژبو لغات او کلمات ډېر ځله سره ګډيږي، په ژبنيو څېړنو کي د لغاتو بېلونه او خپل اصل ته رجوع ورکول مهم مبحث دئ. د پښتو ژبي ځيني لغات هم د نورو ژبو د لغاتو د تشابه په سبب پردي سويدي. په دې مقاله کي زه د داسي کلماتو د پلټلو پر اصولو څه ليکم.

د انسان په اجتماعي ژوندانه کي اکثر شيان د عصر او زمان د ګرزېدلو او تېرېدلو سره ګرزېدونکي او اوښتونکي او تغير خوړونکي دي. اجتماعيون وايي : چي د انسان حياتي عوايد او اخلاق او عادات او کالي او مراسم او نور ټول اجتماعي اساسونه د زمانو او محيط په اغيزو سره تغير خوري، او دا قانون پر ټولو موجوداتو په غير محسوس ډول جاري دئ، ژبه او ادب هم تر دغه اصل لاندي دي، او هر کله د زمانې په تېرېدلو او د چاپېر په اوښتلو بارز او ښکاره تغيرات مومي، او ځانته بېل شکل او ډول پيدا کوي. پر ژبه باندي ډېر عوامل د اوښتلو او ګډېدلو او اختلاط حکم کوي، او نه يې پرېږدي، چي په خپل يوه شکل تر آخره پاته سي دلته يې زه ځيني عوامل مغيره لنډ ښيم:

١. د يوه قوم سره د ګاونډيو اقوامو تماس او تګ راتګ.
٢. سياسي پيښي او د يو ملت سياسي سلطه پر بل باندي.
٣. بېله سياسي سلطې، علمي او ادبي نفوذ.
٤. روحاني او ديني سلطه.



دا څلور د ژبې د اوښتلو او ګډېدلو مهم عوامل دي.

نور هم سته خو دلته يې شرح اوږديږي.

پر يوه ژبه باندي چي يو ملت يې وايي د ګاونډيو ژبو اثر او اغيزه خورا ضروري ده، او هيڅ ژبه خان نه سي ځني ژغورلای مثلاً پارسي ژبه چي زموږ په وطن کي ويله کيږي داسي پښتو په ګډه سوې ده چي اوس په سل کي تقريباً (٣٠) کلمې د پښتو په ګډې دي.

دغسي هم د پښتو سره ډېري پارسي کلمې ګډې سويدي ولي چي پښتو د دغسي ژبي له خاوندانو سره هم سياسي او هم ادبي هم تجارتي او اجتماعي تماس درلود، په وطن کي يو ځاى ورسره استيږي، تر يوې سياسي آزادي سلطې لاندي دي او هم روحاً او ديناً سره مشترک دي. د عربي ژبي ګډون له پښتو سره هم يو کار دئ چي د اسلام له مقدس دينه سره يو ځاى راغلی دئ، او عربي خوږې او مقدسي ژبي زموږ ژبه په ډېرو لغاتو راخوږه کړې ده زموږ په ژبه ډېر ديني او علمي اصطلاحات له عربي څخه راګډ سويدي، قرآن عظيم چي د پښتنو حرز جان دئ په عربي ژبه دئ او د دغي ژبي د لغاتو ګډون زموږ په ژبه يو فطري کار دئ.

د پښتو ژبي اوسني ژوندي لغات او کلمات چي تحليل او کره کړو نو يو څه عربي او فارسي او هندي او تورکي لغات پکښي مومو، چي د دغو لغاتو د تحقيق لپاره موږ پلټني او ګروېږني ته اړ يو، يعني بايد موږ له ځانه سره يو محک ولرو، چي د پښتو لغات پر هغه محک و وهو خپل يې خپل وګڼو، او هغه چي له نورو ژبو څخه راغلي دي د دخيل په حيث يې قبول کړو.

دا لغوي محک او ژبنی معيار به څه شي وي؟

**د بېلوني معيار** :

لمړی بايد دا ووايو چي پښتو ژبه د پوهانو د وېشني سره سم په کومو ژبو کي داخله ده؟

آيا سامي ژبه ده که آريايي؟

پس له ډيرو څيړنو او پلټنو دا خبره اوس ثابته سوېده چي پښتو آريايي ژبه ده څکه چي زموږ هيواد د آريا د کوم مرکزی ټک او کومی دئ، نو دا هم ويلای سو چي پښتو يوه زړه آريايي ژبه ده، او ادبي آثار يې د اسلام له لومړي پيړۍ څخه په لاس راځي او ډېر دلايل لرو چي دا ژبه تر اسلام دمخه هم موجوده وه.

بله دا خبره هم ثابته ده چي د آريايي دوو زړو ژبو سنسکريټ او اوستا ډېر لغات او کلمات اوس په پښتو کي ژوندي او مستعمل دي چي د دغو لغوي دلايلو او قرابت له لامله دا په ټينګه ويلای سو چي پښتو ژبه که د هغو زړو ژبو مور نه وي نو خور خو يې يقيناً ده.

نو چي د پښتو ژبي خپلوي او قرابت او د ريښو او وليو اشتراک له سنسکريټه او اوستا سره ثابت دئ، هم دغه خبره موږ د "ښلوني معيار" مقرروو، په دې ډول :

که څيني لغات او کلمات د پښتو او سامي يا نورو غير آريايي ژبو تر منځ مشتبه سي يعنی په شکل او وضعيت کي سره ورته وي، نو د دې لپاره چي د هغه لغت اصل يا دخيلتوب معلوم کړو، بايد آريايي زړو ژبو ته وګورو، که يې کمه ريښه په هغو ژبو کي پيدا سوه نو دا بايد وواياو چي دغه لغت آريايي او بيا پښتو دئ.

او که يې ريښه او بلګه په آريايي ژبو کي مونده نه سوه نو به هغه لغت له نورو ژبو څخه دخيل وګڼو او د مغفن توب تر قانون به يې لاندي کړو.

په دغه لغوي معيار باندي بايد موږ د خپلو او پردو لغاتو او کلماتو اصل څرګند کړو.

متاسفانه پر پښتو ژبي له پخوا څخه تر اوسه يو ادبي ظلم سويدئ او هم پر کيږي هغه دا دئ : که د پښتو د کم لغت شکل يا تلفظ لږ څه له کم عربي يا پارسي يا بلي ژبي له لغت سره ورته وي،



نو فوراً بېله هيڅ تحقيقه موږ دا حکم کوو چي هغه لغت عربي يا پارسي يا د بلي ژبي دئ اما دې ته نه ګورو چي پښتو ژبه تر پارسي ژبي ادباً قديمه ده او هم دا ژبه د آريائيانو د مرکز ژبه ده. نو که يو لغت په پارسي کي هم وي او په پښتو کي هم وي د دې خبري لپاره کم دليل نسته چي خامخا به پښتو له پارسي څخه اخيستی وي، ممکنه ده چي پارسي له پښتو څخه اقتباس کړئ وي او يا دا چي دا دواړه ژبي آريايي دي يو لغت به په دواړو کي مشترک وي.

راغلو غير آريايي ژبو ته :

وبه ګورو که د يوه لغت ريښه او وليه په زړو او نورو آريايي ژبو کي وه هغه لغت کورټ د پښتو دئ، او هيڅ څوک دا نه سي ويلای چي پښتو له نورو غير آريايي ژبو څخه را اخيستی دئ.

پر دغه کلک اساس او رښتيانی معيار به زه لاندي د مثال په ډول يو څو لغتونه تشريح او تحليل کړم او دا چي دغه لغات پښتو دي ښه به يې زباده کړم :

**يو څو پردي سوي لغات** :

د لږو ورځو خبره ده د فضلاو او پوهانو ټولنه وه، هلته د پښتو د (ښکلي) پر کلمه بحث وسو، ټولو دا خبره ومنله، چي دا له عربي (شکل او شکيل) څخه دخيله او اخيسته سوې کلمه ده مګر داسي نه ده، لاندي يې شرح ولولئ :

**ښکلی، ښکلا، ښکلل** :

ښکلي يا کښلي، په دغه دوه ډوله په پښتو کي د زيبا، قشنګ، حسين، بختيار، کامران، محبوب او نوراني په معناوو راغلی او په ادب کي هم ډېر مستعمل دئ په کاکړستان او پښين کي (کښلی) وايي، د ننګرهار او پېښور پر خواو ښکلي تلفظ کيږي، رحمان بابا وايي :

خبر نه يم چي په باب مي کښلي څه دي؟
زه رحمان په اندېښنه يم له دې ښکليو !

اوس چې په محاوره کې گورو د دې صفت مصدر او مشتقات
يې مستعمل نه دي، مگر پخوا يې مصدر (ښکل) هم مستعمل و، لکه
شيخ متى عليه الرحمه چې وايي :

تولـه ښکلل دي ستا له لاسه.
اې د پاسوالو پاسه پاسه !!

ښکلا يې حاصل مصدر وو، چې اوس دا کلمه مړه ده، معنا يې
جمال او نور دئ شيخ متى وايي :

ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا يې يو سپکه ننداره ده

ښکلېده، ښکلونکی، وښکلل هم له دې مادې څخه پخوا
مستعمل وه چې معاني يې وښکلېده = آرايش، ښکلونکی = آراينده،
وښکلل = آراست، ښکارندوی غوری وايي :

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سنگارونه
يا دا : مرغلرو باندي وښکلل ښونه

په دې ډول دا کلمې په پخواني ادب کې ډېر اهميت لري او
د پښتو له ښو ادبي غنايمو څخه دي.

ځيني خلک چې له شکل او شکيل عربي څخه يې را اخيستي
گڼي، دا غلطي له ظاهري مشابهت څخه پېښه سوې ده، که نه وي
په خپله د عربو په لغت کې خو شکل يوازې د صورت معنا نه لري
بلکې ډېر معاني نور هم لري او شکل چې صورت ته وايي ښه او بد
دواړه دئ. خو د پښتو ښکلی خاص ښايسته او حسين معنا لري.

اما شکيل خو بالکل په عربي ژبه کې د خوبصورت او ښکلي په
معنی دئ هم نه، المنجد وايي :

الشکل الزيد المختلط بالدم يظهر على شکيم اللجام (ص ۴۱۰)

که آريايي ژبو ته رجوع وکړو يعنې دا کلمې پر هغه معيار و وهو چې
دمخه مو مقرر کړ هم دا ثابتيږي چې ښکلي موضوعه قديمه آريايي



پښتو کلمه ده مغفنه نه ده. وگورئ په سنسکريټ کي هم د ښکلي او
هم د کښلي ريښې داسي سته :

شکل Shukla يا Shukl په سنسکريټ کي سپين او نوراني ته
وايي شکلته Shuklata نور، سپين والي سفيدي ده شکله. پکشه
Shukla - paksha د سپوږمۍ رڼا ده له لمرې ورځې تر څورلسمي
پورې. ( د ډنکن فوربس د سنسکريټ قاموس ص ۵۰۵ د لندن طبع
۱۸۰۷ ع)

دغسي هم په دغه کتاب ص ۵۷۳ کي کشل **Kushal** د روغتيا او
سعادت او کامرانۍ او فرخندگۍ په معناوو دئ، کشله **Kushla**
خوش او ښه او سم او درست ته وايي.

کښلی **Kushali** بريالی او کامران او هم خوشحال او ښه
ته وايي.

په دې ډول هم د ښکلي هم د کښلي ريښې کټ مټ په دغو
معناو په سنسکريټ کي سته. نو څوک دا ويلای سي چي دا لغت به
اصلاً آريايي او پښتو نه وي؟ او له سامي څوا څخه به مستعار را
اخيستل سوئ وي؟

**اپت apat :**

دا کلمه په پښتو لاندي معناوي لري :

(۱) رنځ او زحمت او تکليف لکه دا لنډۍ :

د وير اپت راباندي راغی
په ښېلتانه کي د زړه ويني نوشومه

(۲) پر کښت او باغ يو نباتي مرض يا آسماني آسيب راتلل مثلاً : پر
باغ مي اپت راغی، مېوه يې نه ده کړې.

(۳) که دغه کلمه د سړي سره د صفت په ډول راسي مقصد يې ډېر
مکار، محيل او چالاک دئ لکه چي وايي : پلانی ډېر اپت سړی
دئ، په عربي کي هم افت جمع آفات سته مگر پښتو له عربي څخه

دا کلمه نه ده اخيستې بلکي ريښه يې آريايي معلوميږي ځکه چې په سنسکريټ کي هم اپت apat يا اپتي apatti فاجعه، بدبختي، پرېشاني او خفت او رسواتوب ته وايي.

(لوړ ذکر سوئ سنسکريټ قاموس ص ۷ فرهنگ نظام ص ۹۳ ج ۱)

علاوه پر دې په پښتو هغه کال چي مرضونه يا د کښت آفات ډېر وي او کاختي وي د اپت کال يې بولي، کټ مټ دغه کلمه په سنسکريټ کي هم اپت کال apat-kal راغلې ده، چې معنا يې هم د پرېشانۍ او قحط وخت دئ.

نو د پښتو اپت زړه آريايي کلمه ده مغفنه نه ده او زموږ په ادب کي هم ښه موقع لري مثلاً :

لکه شين کښت ژليو زمول کړم
راباندي راغلي له آسمانه اپتونه

يا دا :

اپت وهلي کښت له راغلم
نه يې شين توب سته نه هغه خوند راکوينه

**ابير abir** :

په پښتو خوشبويي دوا ته وايي، چي له يو څو اجزاو څخه مرکبه سوې وي، په سنسکريت کي هم په دغه شکل يو خوشبويه سور پوډر دي چي په ښو ورځو کي استعماليږي.

په عربي کي هم عبير سته چي معنا يې اخلاط من الطب (المنجد) ده په پارسي کي هم دغه کلمه د منتخب په قول د صندلو او گلابو او مښکو څخه مرکبه دوا ده، بهار عجم (ص ۲۱۷ ج ص) ليکي، چي زعفران هم عبير بولي، نظامي وايي :

لب غنچه را کايدش بوی شير
بـــــکام گل سرخ دادم عبير

کمال خجندی وايي :



بر سرتربت مجنون چو بسوزيد عبير
شکر و عود زخال لـــب ليلی طلبيد

دا خو ښکاره خبره ده چي پارسو کټ مټ هغه عربي شکل قبول کړئ دئ مگر د پښتو ابير اصلي آريايي کلمه ده او لکه اکثر فرهنگ ليکونکي چي وايي غربي عبير هم له دغه سنسکريټ ابير څخه معرب سويدئ ځکه چي عربو ډېر د دواوو نومونه له هنده پخپله ژبه کي قبول کړي دي لکه صندل د چندن معرب او نور ...

**ابرک Abrak** :

يوه سپينه کاني بربښندونکې پسته ډبره ده چي پاڼي پاڼي کيږي او زر برخ څيني جوړيږي په انگليسي يې Mica يا Talc بولي.

ځيني خلک دا کلمه اشتباهاً عربي گڼي او ابرق يې ليکي، مگر پخپله په عربي بل نوم لري او (طلق) يې بولي او دغه نوم له عربي څخه اروپا ته هم تللي او لکه المنجد چي وايي talc سوئ دئ.

پخپله ابرق په عربي بله معنا لري يعني کلکه مځکه چي ډېري اوختي پکښې گډي وي يا داسي شی چي تور او سپين وي (المنجد)

فرهنگ انندراج وايي چي توره او سپينه رسۍ هم ابرق بولي.

ښه اوس نو پښتو ابرک په عربي ډول ابرق ليکل، آيا د لغت او تحقيق له پلوه جايز دي؟ حال دا چي په سنسکريت کي هم کټ مټ په دغه پښتو معنا ابهرک Abhrak سته.

نو پسله دغو پلټنو ځوک ويلای سي چي ابرک پخپله پښتو او آريايي کلمه نه ده؟

**اپی يا هپی Hapi-api**

په پښتو لوی مار يا اژدها ته وايي، ځکه چي په عربي کي افعي په دغه معنا سته، نو ويل کيږي چي اپي د افعي مغفن دئ.

مگر دا کلمه په پښتو کي له قديمه تر اوسه سته خوشحال خان وايي :

مه لړم سه مه اپي سه
غـــم فزا ، راحت زدا

يا دا لنډۍ :

موزی اپي مار راته بس دئ
اپي ماران دي د موزيانو په گور سينه

وگورئ د دې کلمې ريښې پخپله په ژبه کې موجـودي دي اپ يا هپ ژر ژر خوړلو او بلعيدن ته وايي. چې کټ مټ په دغه معنا پـه هندي ژبې کي هم سته. په پښتو وايي : هپ يې کړل، يعنـی بلعيـد، دغسي هم بل مصدر اپيل يا هپېدل د بلعيدن په معنا دئ.

نو اپي يا هپي هم بلعيده ته وايي ځکه چې اژدها هم هـر شـی ښوی تېروي، نو اپي بلل سويدئ.

**اتبار Etbar** :

د اعتماد، ويسا روښناسی، يقين په معناوو دئ مثلاً : زلمی د اتبـار خاوند دئ، يعنی روښناس او باعزت دئ، يا اتبـار وکـړه چـي خبـره دغسي ده، يعنی يقين وکړه. د علي خان ختک په دې بيت کي هـم د ويسا او اعتماد په معنا دئ :

چي ډېر دوست يې گڼي لا دي ډېر دښمن سي
د هر چا تر منځه ورک ويســــــــا اتبار سو

دا کلمه کټ مټ په سنکريت کي هم سته، اتبـار Atbar د ډېـر معاشرت او رفت و آمد په معنا دئ، چي دغي اوسنۍ معنا تـه بيخـي نژدې ده، ځکه چي د معتمد او معزز سړي سره رفت و آمد او تگ او راتگ خورا ډير وي. له دغي آريايي ريښې څخه موږ دا فهمولای سو چي اتبار د اعتبار مفغن نه دئ، بلکی پخپله مستقله پښتو کلمه ده.

**اتيات Atyat** :

(۱) يو کار په توجه او غور او تدقيق کول، مثلاً اتيات کوه چي غـوزار نه سې، يعنی غور او فکر کوه يا په اتيات ځه چي خوږ نه سې.



(۲) اتيات د صبر او تقوی په معنا، چي اتياتي صـابر او متقـی او پارسا ته وايي، لکه په دې لنډۍ کي :

اتياتي ياره راته گوزه
نن دي کاله ته په روا نکاح درځمه

دلته اتياتي خاص متقي او پارسا او خود دار تـه ويـل سـويدي ځکـه چي تر نکاح دمخه مين خپليميني ته نه کتل، د تقوی له لامله نه ورسـره يو ځای کېده، وروسته چي شرعي نکاح وسوه، نو ميني دغه لنډۍ ورتـه و ويل، او کور ته يې ورغله.

د دې کلمې د پښتو والي لپاره دوه دليله سته چي د (احتيـاط) مفغنـه نه ده، لمړی دا چي اتيتي پخپله په پښتو کي مستعمله کلمه ده، چي صـبر او قناعت ته وايي، او د اتيـات سره پـه ريښـه کـي مشـترکه ښکـاري، پـه سنسکريت کي هم اتيت Atit د زاهد او متقي او پارسا په معناو راغلی دئ چي د اتيات او اتيتي ريښې مشترکي ورسره ښکاري.

**عربي مفغنات هم زموږ دي** :

دا يـو څـو مثالونـه چـي مـا ذکـر کـړل، مقصـد دا وو، چـي ښـاغلي لوستونکي د پښتو لغاتو د تحقيق و خواته ملتفت سي او هر لغـت چـي لـه نورو ژبو سره لږ څه تشابه ولري پردي ونه گڼي.

په دې ليک کي زما مطلب دا نه دئ، چي موږ بـه نـو خامخـا عربـي کلمات او لغات پرېږدو، يه ، يه ! مقصد مي دا دئ چي پښتو لغات مـوږ پـه عربي گډ نه کړو، پخپله عربي ژبه او عربي لغات هم په څو حيثه موږ نه سو پرېښولای. لمړی دا چي پخپله عربي يوه مکمله او پـه علمـي اصـطلاحاتو ډکه او هم ديني مقدسه ژبه ده، زموږ ژبه رابډايه کوي، او له ډيرو نواقصو يې راژرغوري، او ډېر لغات او کلمات له عربي څخه په پښتو کي کټ مـټ راگډ سوي او هم ځيني مفغن سـوي دي. مـوږ بايـد دغسـي دواړه قسـمه کلمې هېري نه کړو او د خپلي ژبـي د ثـروت او اسـتغنا لپـاره کـار ځنـي واخلو. مخصوصاً هغه کلمات او لغات چي پخپله په پښتو کي هـم نسـته، او موږ يې اوس استعمال ته مجبور يو. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۳ ل کال، ۲ گڼه، ۱ _ ۵ مخونه.